فدوي عبدالفتاح
ژباړه: فرهاد ویاړ
۲۶ اپریل ۲۰۱۳


## آرامه انجلۍ وه

فدوي عبدالفتاح آغا طوقان عربه نومیالي شاعره ده چي په ۱۹۱۷ کال کي په یوه فلسطینی کورني کي په اردن کي زیږیدلی ده. فدوي سیاسي او مبارزه شاعره وه چي د محمود درویش سره یي یوځای د فلسطیني ولس د آزادي غوښتنکي مبارزي ملاتړ کاوه. دی مبارزی شاعری  په ۲۰۰۳ کال کي کله چي امریکایي امپریالیستان د صدام حسین د نیولو په لټه کي وو، له نړی سترګي پټي کړی.



آرامه انجلۍ وه

د ځپاندو سیندونو له څنګه تیریده

میرمن شوه

لویه شوه لا لویه

نور یي آرامتیا نه درلوده

د هغو باغونو له څنګه تیریده چي په وینو لت پت وو

د هغو شګوفو له څنګه تیریده چي په اور سیزیدلی وو

پر داسي سړي مینه شوه چي لیدلی نه و

هغه يې د مردکيو په منځ کې له لاسه ورکړ
لا لويه شوه
کله چې بوډۍ شوه
د هغو اولادونو لپاره يې د وير زمزمه کوله چې وژل شوي وو
د ښځانو سيندونو لپاره يې شعرونه ويل
د مرګ ورځ يې له هغو ګلونو سره مل و
چې په وينو لړلي باغ کې غوټۍ کړې وې
په يوازيتوب يې ځان خخ کړ
په هغه کنده کې چې له ماشوموالي يې ځانته کيندلې وه.